مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمد عارف رسولي

۲۰۱۹/۰۵/۱۱

# کومه روژه مو پاکوي؟

قرآن کریم موږ ته رابښيي چي روژه زموږ تقوا او له الله تعالی وېره زیاتوي او له ګناهونو مو پاکوي. لکه چي الله تعالی د بقرې په سوره کي فرمايي :يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ) بقره: ۱۸۳ .(ترجمه :ای هغو کسانو چي ایمان مو راوړئ، دی (ای مومنانو!) فرض کړل شوې ده په تاسو روژه لکه چي فرض شوې وه په هغو کسانو چي پخوا له تاسو څخه وو (لکه پخواني امتونه او پيغمبران تر آدمه پوري) .
په دي مبارک آيت سره روژه په مسلمانانو فرض شوې ده او ګورو چي روژه د مسلمانو د پاکی او تقوا لپاره یوه وسیله ده. خو دلته سوال پیدا کېږي چي ولي ځيني خلک روژه هم نیسي خو بیا هم تقوا نه لري او پاکان نه دي. خو دين موږ ته وايي چي هغه روژه مسلمان له ګناهونو پاکوي چي ټول مهم شرطونه او آداب یي مراعات کړو، زړه ته مو لاره ومومي او یوازې په لوږه او تنده بسنه ونه کړو. د بخاري شريف په یوه حدیث کي راځي: هغه کس چي د روژې مبارکه میاشت د ایمان او عقیدې په رڼا کي او د اجر او ثواب د ترلاسه کولو لپاره ونیسی، تېر ګناهونه یي ببښل کېږي. دلته ګورو چي عقیده، نیت او د اجر لپوالتیا د روژې په قبولیت او د ګناهونو په ببښل کېدو کي مهم رول لري.
په بل حدیث شریف کي راځي چي هغه څوک چي درواغ ویل او د درواغو په بنسټ کړني بس نه کړي، الله تعالی د هغه نه خوړلو او نه څښاک ته اړتیا نه لري. همداسي نور صریح نصوص شته چي د پاکوونکي روژې اړخونه موږ ته رابښيي. دلته هڅه کېږي چي د پاکوونکي روژې یو څو ورته اړخونه ذکر کړو:
له حضرت عمر فاروق) رض (څخه په یوه روایت شوي حدیث شریف کي چي د احادیثو د کتابونو په لمړي سرکي راځي، نيت په ټولو امورو او عبادتونو کي مهم شرط او اصل دی او موږ ته په هر عمل کي هغه اجر راکول کېږي چي نیت یي ولرو. نو روژه هم یوازې د یوې عنعني او عادت په توګه نه بلکه د یوه سوچه نیت له مخي باید ونیسو .په روژه کي زموږ نیت باید دا وي چي روژه په موږ فرض او د الله تعالی امر ده، له ګناهونو مو پاکوي، خاص د خدای لپاره روژه نیسو، باید یوازې له الله تعالی د اجر تمه ولرو، د روژې ټول شرطونه او اداب باید مراعات کړو تر څو زموږ د هدايت، پرهېزګاری او پاکی لامل شي .د یوه حديث شریف مضمون دی چي الله تعالی فرمايي » :روژه زما لپاره ده او زه خپله د روژې اجر خپل روژه تي بنده ته ورکوم «.نو زموږ نیت هم باید همداسي وي او له هغه ذات سره مو معامله وي او هڅه وکړو چي روژه مو یوازې د تندې او لوږې په ځای زړونه تر اغېزې لاندې ونیسي او هغه ذات ته تقرب تر لاسه کړو .
روژه د ترحم او مهرباني میاشت ده، الله تعالی د جنتونو ورونه خلاص او د دوزخونو ورونه بندوي او شیاطین په زنجيرونو کلک تړي. نو موږ هم که غواړو چي له ګناهونو پاک شو باید له دې غوره فرصته ګټه پورته کړو او له ګناهونو ځان پاک کړو. همدارنګه بله غوښتنه د روژې داده چي د الله تعالی په ټول مخلوق په عام ډول، په انسانانو او په خاصه توګه بیا په مسلمانانو مهربانه و اوسو. که موږ په روژه کي سخت زړي واوسو د الله تعالی د رحمت تمه لرل به بېځایه وي. البته استثنا شته خو باید صریح احکام موجود وي چي موږ ترحم ترک کړو.
بله هغه روژه موږ پاکوي چي موږ مسلمان روژه تیان ورته د یوه تربيتي کورس، تمرين او ټرېننګ په سترګه وګورو، داسي چي وغواړو په خپل ځان، خپل نیت، کړنو او ټول ژوند کي اصلاح او نیک بدلون راولو، خپلو کړنو او خپل نفس اماره باالسوء ته پوره ځير وو. د تربيتي کورس او ټرېننګ موخه دا وي چي د راتلونکي لپاره ورنه کار واخلو. نو موږ هم باید چي هغه عادتونه او اخلاق چي په روژه کي یي تر لاسه کوو تر روژې وروسته یي هم د دوام هڅه وکړو او له خدای ج څخه د دې کار توفيق وغواړو.
ټول قرآن کریم لمړی ځل په روژه کي نازل شوی او بیا په کراره د جبریيل امین په واسطه په محمد الرسو ل الله د ۲۳ کالونو په بهیر کي نازل شوی دی. د روژې په هره میاشت کي به حضرت جبریيل علیه السلام له پیامبر علیه السلام سره قرآن پاک تکراراوه او د رسول الله صلی الله علیه والسلم د عمر په اخري روژه کي یي دوه ځله ورسره


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

تکرار کړ. له موږ مسلمانانو هم غوښتنه ده چې په روژه کې زيات تلاوت وکړو او په تلاوت ځان عادت کړو او تر روژې وروسته هم دوام ورکړو او په معنی يې تر وسې وسې ځان پوه او په کې فکر وکړو. کله چې موږ تلاوت کوو په هر حرف راته لس اجره دي. د مثال په توګه «الم» يو حرف نه دی بلکه الف يو حرف دی، لام بل او ميم بل حرف دی. نو کله چې موږ په روژه کې بيا تلاوت کوو، د قرآني آيتونو په معنی کې تدبر او تفکر کوو، هڅه کوو د هغو په رڼا کې ځان اصلاح کړو او الله تعالی ته ورنيږدې شو نو انشاء الله زموږ اجر زموږ تر تصور او حساب لوړيږي.
د قدر شپه چې په روژه کې شتون لری، د صريح نص په قول فضيلت يې تر زرو مياشتو زيات دی. په دې مفهوم چې د قدر په شپه کې تلاوت، تفکر، عبادت، غوره کړنې او نور ښه کارونه د زرو مياشتو له عبادت څخه غوره دي او زيات اجر لري .بايد هڅه وکړو چې که ممکنه وي په ټوله روژه کې او په خاصه توګه د روژې د مبارکې مياشتې د دريمې لسمې په تاق شپو کې زيات تلاوت او عبادت وکړو .
بله مهمه خبره داده چې په احاديثو کې راځي چې د الله رسول به په روژه کې زيات سخي و او له مسکينانو سره به يې زياته مرسته کوله. نو موږ هم بايد هڅه وکړو چې بېوزلو کسانو ته صدقې او مرستې ورکړو. يو خو صدقه رد بلا ده، که مو په روژه کې سخاوت ته مخه کړه انشاء الله يو خو به خپله موږ او کورنۍ مو له بدو اندونو او لاسونو وساتي او بله داچې په روژه کې به زموږ اجرونه څو څو ځله زيات شي او د دواړو دارينو نېکبختي به راپه برخه کړي .
خو دلته يو د خطر زنګ او د هېښتيا خبره هم شته. يوازې له خوړو او څښاکه څخه ځان ساتل، خو غيبت، تهمت، حرام خوړل، د خدای د مخلوق آزار او نورې بدې کړنې نه پرېښودل د روژې په مبارکه مياشت کې روژه تيان له ګناهونو نه پاکوي. که د الله تعالی د رحمتونو او مهربانيو له پراخه شتون سره سره به روژه کې بيا هم کوم مسلمان پاک نشي، نو د جبرييل عليه السلام په غوښتنه چې پيامبر عليه السلام هم ورته آمين ويلی په معنوي لحاظ هلاک او تباه کيږي. دا ځکه چې سره له دومره زياتو اسانتياوو او مهربانيو چې د لږ ښه کار او عبادت په مقابل کې په لسهاوو او سلهاوو ځله زيات اجرونه روژتي ته ورکول کيږي او بيا هم که څوک له غفلته کار اخلي، د خپل ځان په تذکيه او پاکوالي کې هڅه نه کوي او له بدو کړنو ځان نه ساتی د هغه کس د جهالت، کبر او سرکشی له کبله به وي او ځکه داسې کسان د هلاکت کندې ته ورټېل وهل کيږي.
په پای کې که مو په روژه کې د پورته او ورته نورو کړنو هڅه وکړه نو انشا الله تعالی له ګناهونو به پاک شو. الله تعالی د موږ ته توفيق راکړي چې همداسې روژې ونيسو. آمين يارب العامين .

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ